د افغانستان اسلامي امارت
لوړو زده کړو وزارت
د ديني جامعاتو او تخصصاتو عمومي رياست
اجرائيه عمومي مديريت

ګڼه: ۳۶۳ / ۴۲۴

نېټه: ۱ /۳/ ۱۴۴۸ هـ ق - مطابق: ۲ /۶/ ۱۴۰۵ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحيم

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت محترم مقام ته!

د محترم مسلکي معينيت د پام وړ!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

الله ﷻ مو په ټولو ديني او دنيوي چارو کې بريالي لره!

**موضوع: د ۱۴۴۷ هـ. ق کال ضمني ازمويني د خبرتيا نشرولو په اړه.**

د لوړو زده کړو وزارت اړوند د ديني جامعاتو او تخصصاتو عمومي رياست په پلان کې لري چې د ۱۴۴۷هـ. ق کال په کلنۍ ازموينه کې له مشروط فضلاء کرامو څخه ضمني ازموينه واخلي، د ازمويني ياده لړۍ به د (۱۴۴۸/۳/۱۶ هـ. ق) مطابق د (۱۴۰۵/۶/۸ هـ. ش) نېټې څخه پيل او تر (۱۴۴۸/۳/۲۰ هـ. ق) مطابق د (۱۴۰۵/۶/۱۲ هـ. ش) نېټې پورې دوام ولري، دا چې اکثره علماء کرام په لرې پرتو سيمو کې اوسېږي او د اړينو اطلاعاتو څخه پر وخت نه سي خبرېدلای، بناءً ستاسو له محترم مقام څخه په درنښت هيله کوو چې د دې ليک سره مل خبرتيا د خپلو نشراتي ادرسونو څخه خپره کړئ، ترڅو علماء کرام پر وخت خبر او له ازمويني څخه محروم پاتي نه سي، ستاسو له دوامداره همکاريو څخه مننداوی يو، والسلام.

مفتي بسم الله (سعيد)

د ديني جامعاتو او تخصصاتو عمومي رئيس

ملاحظه شد

آمریت اطلاعات و نشرات
درمورد همکاری لازم نماید
رئيس اطلاعات و آگاهی عامه

وارده ۴۲۸ اجرائيه ۱۴۴۸/۳/۱۲

# د ۱۴۴۷ او ۱۴۴۶ هـ ق کلونو کلنۍ ازموینو کې د مشروط فضلاء کرامو ضمني ازموینې خبرتیا!

هغه فضلاء کرامو ته چې د ۱۴۴۷ او ۱۴۴۶ هـ.ق کلونو عالیې او عالمیې کلنۍ ازموینو کې مشروط کامیاب شوي او نومونه یې د لینک په ذکر شویو لیستونو کې موجود وي، خبر ورکول کېږي چې د لاندې مهالوېش سره سم د خپل ولایت اړوند زون په امارتي پوهنتون کې د مشروط مضمون ضمني ازموینه ورکړي.

**د بایمتریک او کارتونو وېش نېټه:**

(۱۶/۳/۱۴۴۸ - ۱۷) هـ ق (۸/۶/۱۴۰۵ - ۹) هـ ش یکشنبه او دوشنبه.

| ورځ | نېټه | سهار (۱. عالیه ۲. عالمیه) | ماسپښین (۱. عالیه ۲. عالمیه) |
|---|---|---|---|
| سه شنبه | ۱۴۴۸/۳/۱۸هـ ق<br>۱۴۰۵/۶/۱۰هـ ش | ۱. شرح الجامي ومختصر المعاني<br>۲. الهداية - البيوع والشفعة | ۱. التبيان والترجمة<br>۲. تفسير البيضاوي والفوز الكبير |
| چهار شنبه | ۱۴۴۸/۳/۱۹هـ ق<br>۱۴۰۵/۶/۱۱هـ ش | ۱. مسند الإمام الأعظم وتيسير مصطلح الحديث<br>۲. جامع الترمذي و شرح معاني الآثار | ۱. مسلم الثبوت وسلم العلوم<br>۲. نخبة الفكر |
| پنجشنبه | ۱۴۴۸/۳/۲۰هـ ق<br>۱۴۰۵/۶/۱۲هـ ش | ۱. هداية النكاح والسراجي<br>۲. صحيح مسلم وأبي داود | ۱. شرح العقائد النسفية<br>۲. صحيح البخاري |

د سهار ازموینې پیل وخت: سهار **۰۷:۳۰** | د ماسپښین ازموینې پیل وخت: **۰۱:۳۰**

## یادونې:

۱- په ازموینه کې ګډون لازمي دی، غیر حاضر کسان وروسته د ازموینې لپاره په انفرادي توګه مراجعه نه شي کولی.

۲- فضلاء کرامو ته د شمولیت کارت او بایمتریک پرته په ازموینه کې د ګډون اجازه نه ورکول کېږي.

۳- له فضلاء کرامو څخه هیله کېږي، چې د بایمتریک، شمولیت کارت تر لاسه کولو او ازموینې پر مهال اصلي پېژندپاڼه له ځانه سره ولري.

۴- د هلمند ولایت فضلاء کرام دې د هلمند ولایت امام محمد رحمه الله دیني جامعې ته مراجعه وکړي.

۵- هغه فضلاء کرام چې په دارالهجرة کې یې د ۱۴۴۷ هـ ق کال کلنۍ ازموینه ورکړې وه او په نتایجو کې مشروط اعلان شوي وو، د ضمني ازموینې لپاره د هر زون پوهنتون ته چې رسیدګي کولای شي، مراجعه دې وکړي.